# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۵۸ ګڼه / یکشنبه ۲۰ مه ذوالقعدةالحرام ۱٤٤٦ هـ.ق / د غویي ۲۸ مه ۱۴۰۴ هـ.ش / د مې ۱۸ مه ۲۰۲۵ میلادي


## د بهرنیو چارو وزیر د ایران په رسمي بلنه تهران ته تللی

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیرخان متقي د ایران د بهرنیو چارو وزیر سید عباس عراقچي په رسمي بلنه تهران ته سفر وکړ.



د یاد وزارت د مطبوعاتو او عامه اړیکو رییس حافظ ضیا احمد تکل وایي، په دې پلاوي کې د اقتصاد وزارت مرستیال ډاکټر عبداللطیف نظري هم شامل دی. ښاغلی تکل زیاتوي، د بهرنیو چارو سرپرست وزیر به د تهران د خبرو اترو فورم کې د ګډون تر څنګ له خپل ایراني سیال او یو شمېر نورو لوړپوړو ایراني چارواکو سره هم لیدنې او خبرې ولري.




## د عدلیې سرپرست وزیر روسیې ته ولاړ

د عدلیې وزارت سرپرست شیخ عبدالحکیم شرعي د سن پترزبورګ د نړیوالې حقوقي مجمع په دیارلسمې غونډه کې د ګډون په موخه روسیې ته سفر وکړ. یاد وزارت وایي، په دې غونډه کې به ښاغلی شرعي د قوانینو د څرنګوالي، په نړیوالو حقوقو کې د اصلاحاتو د اړتیا، د عدالت د ساتنې او د نړیوالو تعاملاتو پر وړاندې د اسلامي امارت د دریځ په تړا وینا وکړي. د نړیوالې حقوقي مجمع غونډه د روانې اوونۍ د دوشنبې په ورځ د روسیې د سن پترزبورګ په ښار کې پیلېږي او د درېیو ورځو لپاره به دوام ومومي. د یادونې وړ ده، چې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیرخان متقي هم د ایران د بهرنیو چارو وزیر سید عباس عراقچي په رسمي بلنه تهران ته سفر کړی.

### ملا نورالله نوري:

## راستنېدونکو کډوالو ته دې د سرپناه برابرولو چارې ګړندۍ شي

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست ملا نورالله نوري د یوه پلاوي په مشرۍ د اسکانو د کمېټې له غړو سره کتلي دي.

یاد وزارت وایي، چې ښاغلي نوري او مل پلاوي د کمېټو له غړو سره د راتلونکو کډوالو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو او ستونزو هوارولو په تړاو خبرې کړې او د ننګرهار سرخ رود، بهسود، رودات او خوږیانو ولسوالۍ ته د سفر په ترځ کې یې د کډوالو د ښارګوټو د رغنیزو چارو څارنه او ارزونه کړې. ملا نورالله نوري د دغه سفر پر مهال له مسئولینو غوښتي، چې له پاکستان څخه د راستنېدونکو کډوالو لپاره دې د ښارګوټي رغنیزې چارې نورې هم ګړندۍ شي، تر څو کورونه او سرپناوې ورته برابرې شي.

د یادونې وړ ده، چې د یاد وزارت د دغه مهم بهیر د سمون او همغږۍ لپاره ځانګړې کمېټې جوړې کړې او د کډوالو لپاره ښارګوټي، سرپناوې او بنسټیزې آسانتیاوې یې برابرې کړې دي.



## د افغانستان او پاکستان تر منځ د سوداګرۍ کچه زیاته شوې




نېشن ورځپاڼې راپور ورکړی، چې د روان میلادي کال د مارچ میاشتې په پرتله اپرېل کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ کچه ۲۳ سلنه لوړه شوې ده.

راپور کاري یاده سوداګري په اپرېل میاشت کې ۱۱۹ میلیون ډالرو ته رسېدلې خو دا کچه په مارچ میاشت کې بیا ۹۷ میلیون ډالر وه ،چې د مارچ میاشتې په نسبت په اپرېل میاشت کې ډېر ... ۳مخ

## له کندهاره د حاجیانو یوولسمه الوتنه ترسره شوه




د کندهار احمدشاه بابا نړیوال هوايي ډګره بیت الله شریفې ته د حاجیانو یوولسم پرواز ترسره شو، د دې سپېڅلي سفر لپاره د کندهار امنیه قومندانۍ د کندهار د ترافیکو له مدیریت سره په ګډه حجاج له حاجي کېمپه تر کندهار احمدشاه بابا نړیوال هوايي ډګر پورې په منظم ډول انتقال کړل.

یاد امنیتي ځواکونه به راتلونکو پروازونو کې په خپلو مشخصو ځایونو کې دنده ترسره کړي او د ټولو حاجیانو لپاره د یو خوندي، بابرکته او قبول شوي حج هیله کوي. الله ج دې یې عبادات قبول کړي.

## دمیدان وردګو له پراختیایي پروژو کتنه وشوه

د میدان وردګو والي قاري بختیار معاذ د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې روزا اتونبایوا او د دې ولایت د اوبو او انرژي رییس مولوي عبدالصمد حلیم په ملتیا د نرخ ولسوالي په اولخېلو سیمه کې د هغې پروژې د چارو له بهیر لیدنه کړې، چې په کې درې چکډمونه، دوه کانالونه، یو حوض، یو قالین شویي او څلور پلګوټي شامل دي. ۳مخ

## لغمان کې د کمپیوټري یخن ګنډلو کارخونه فعال شوه

د لغمان ځایي مسئولینو خبر ورکړی، چې په یاد ولایت کې د ۶۰ زره ډالرو په لګښت د کمپیوټري یخن ګنډلو کارخونې فعالیت پیل کړی دی.

د یادې کارخونې مشر وحدت الله سیرت باختراطلاعاتي آژانس ته ویلي،چې په دغې کارخونې یې ۶۰ زره ډالره پانګونه کړې او اوس مهال دوه پر مختللي ماشینونه لري او کولای شي،چې په یوخت کې ۲۴ غاړې (یخنونه) تولید کړي.

نوموړي زیاته کړه:« زموږ موخه د یادې کارخونې له جوړېدو دا ده چې خلک له کورني تولیده برخمن شي او هم ځوانانو ته د کار زمینه برابره شي».


په ورته وخت کې د صنعت او سوداګرۍ رییس مولوي سلامت خان بلال ویلي:« ولایتي اداره د خصوصي سکتور هڅونې ته ژمنه ده او هر څوک چې پانګونه کوي موږ ورته د امنیت سربېره بېلابېلو... ۳مخ



## آغاز ۸ پروژه مخابراتی در مناطق دوردست سرپُل

مولوی نجیب‌الله حقانی، وزیر مخابرات و تکنالوژی معلوماتی به سرپل سفر کرده و از آغاز ۸ پروژه جدید مخابراتی در این ولایت خبرداده است.

به گزارش خبرنگار آژانس باختر، در نشستی که به این منظور با حضور ملا خال محمد حقانی معاون مقام ولایت سرپل در مقر این ولایت برگزار شد، مولوی نجیب‌الله حقانی وزیر مخابرات و تکنالوژی معلوماتی هدف اصلی سفر خود را بررسی مشکلات مخابراتی باشندگان سرپل عنوان کرد و از اختصاص بودجه مشخص برای راه‌اندازی ۸ پروژه جدید مخابراتی در سال روان خبر داد.



وی افزود که این پروژه‌ها مناطق محروم و دوردستی را شامل می‌شوند که پیش از این از خدمات مخابراتی بی‌بهره بودند.

در پایان این نشست ، نمایندگان شرکت‌های مخابراتی گزارش‌هایی در مورد فعالیت‌ها، چالش‌ها و برنامه‌های آینده خود برای گسترش پوشش شبکه‌های مخابراتی در مرکز و ولسوالی‌های ولایت سرپل ارائیه کردند.


د بې کیفیته تېلو روغتیایي او اقتصادي زیانونه

۲مخ

د غیر معیاري او تاریخ تېرو توکو مخنیوی غوره اقدام دی

۲مخ


## سرمقاله

## اضرار مواد نفتی بی کیفیت و زیان‌های وارده آن

مواد نفتی و گاز یکی از ضرورت های اولیه وکلیدی بشر به شمار می‌رود، زیرا بسیاری از بخش های زندگی بشریت به این معمول بستگی دارد.

بنابرین علی الرغم اهمیت وارزش حیاتی واقتصادی موادنفتی در جهان، مواد نفتی بی کیفیت و استفاده غیر معیاری آن، اضرار وخطراتی بس بزرگی نیز در قبال دارد که باید بر کیفیت مواد نفتی واستفاده مؤثر آن بیشتر توجه داشت.

در جهانی که ما زندگی می‌کنیم ، بیشترین چرخه زندگی وابسته به مواد نفتی است که این وابستگی بیش از حد ، کشور های صنعتی جهان را واداشته تا راه های بدیل را نه تنها برای کاهش مواد نفتی جستجو کنند، بلکه برای جلوگیری از شیوع امراض تنفسی، آلوده شدن هوا ومحیط زیست و... نیز کار های مثمری را انجام دهند. امروز ما شاهد عرضه موتر های برقی در بازار های جهانی ، همچنان استفاده از انرژی آفتابی ، بادی و... هستیم که این شاخص ها، در آینده نزدیک بشریت را از وابستگی به مواد نفتی رهایی خواهند بخشید؟ اما افغانستان که دارای منابع بزرگ طبیعی و ذخایر باکیفیت مواد خام به ویژه مواد نفتی می باشد ، نظر به سروی هایی که صورت گرفته، در این کشور شش حوزه نفتی موجود است، اما از اثر جنگ های تحمیلی چهار دهه گذشته و خسارات وارده براین کشور، همچنان عدم توجه حکومت های گذشته برزیر ساخت های اقتصادی و...، آن چنانی‌که در حوزه های نفتی ،کار وفعالیت صورت می‌گرفت، اقدامات قابل لمسی نشده است که این ناهنجاری وکم‌کاری ها، سبب شده که افغانستان امروز بیشترین مواد نفتی مورد ضرورت خود را از کشور های همسایه و منطقه تأمین کند. هرچند بعد از پیروزی امارت اسلامی در افغانستان ، تلاش‌ها و قرار داد های زیادی به خاطر استخراج موادنفتی، امضاء وانجام شده، اما نبود پالایشگاه های معیاری باظرفیت بزرگ، کار استخراج ... ص۳

# د غیر معیاري او تاریخ تېرو توکو مخنیوی غوره اقدام دی

شاه محمود درویش

د اسلامي امارت اړوند مسئول ارګانونه د جدي څارنې، کنټرول او تفتیش د بهیر په دوام کې د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د یادو مراجعو د مسئولو ټیمونو د هڅو له امله په دوامداره توګه له مختلفو درملتونونو بې کیفیته او تاریخ تېره درمل، همدا راز له دوکانونو او هټیوالو څخه هم بې کیفیته او تاریخ تېره خوراکي توکي لکه شیدې، پېروی، آچار، د لوبیا او نخودو کنسر، چپس، چاکلېټ، بسکوېټ، شامپو، صابون، ډول ډول غیر الکولي مشروبات، کیچپ او... په پرله پسې ډول را ټول او په عام محضر کې سوځول شوي او دا بهیر لا هم په ښه ډول پرمخ روان دی، له نېکه مرغه په همدې موخه د مسئولو مراجعو د هڅو په لړ کې په دې وروستیو کې د فراه ولایت اړوند سیمو څخه له تېرو شپږو میاشتو راهیسې راټول شوي ۷۰ ټنه تاریخ تېره خوراکي او غیر خوراکي توکي سوځول شوي دي. د دغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې په دغو توکو کې ۳۰ ټنه درمل او ۳۰ ټنه خوراکي توکي شامل وو او د عامې روغتیا ریاست د خوړو او درملو آمریت په لارښوونه راټول او سوځول شوي دي. هېره دې نه وي چې له دې مخکې هم په یو شمېر ولایتونو کې د بې کیفیته او تاریخ تېره خوراکي او غیرخوراکي توکو د سوځولو راپورونه ورکړل شوي دي. که څه هم له تېرو درېیو کلونو راهیسې د هېواد په بازارونو کې د بې کیفیته او تاریخ تېره درملو او خوراکي توکو راټولول او سوځول پیل شوي، خو لا هم د پلازمېنې کابل په ګڼو په ځینو لویو ښارونو کې له دې برخې څخه شکایتونه کېږي، خو دې ټکي ته مو باید پام وي چې د هېواد د ملي ستنډرډ اداري، عامې روغتیا وزارت او ترڅنګ یې د اسلامي امارت د اړوندو مسئولو ارګانونو ټیمونو له لوري د هېواد په مرکز او ولایتونو کې له درملتونونو، دوکانونو او هټیوالو څخه د بې کیفیته او تاریخ تېره خوراکي توکو او درملو د راټولو بهیر لا پسې دوام لري، چې دا واقعاً ډېر ښه کار دی او په ټوله کې هېوادوال په دې برخه کې د مسئولو ارګانونو کړنې ستايي او په پوره جدیت د چارو د پرمخ وړلو هیله او غوښتنه کوي، ځکه د بې کیفیته او تاریخ تېره خوراکي ډول ډول توکو او درملو پلورل سره له دې چې غیر قانوني عمل دی، د دې ترڅنګ د هېوادوالو په ژوند لوبې کول دي، ځکه که چېرې زموږ هېوادوال د اړتیا پر مهال له دغه بې کیفیته او تاریخ تېره توکو څخه استفاده کوي، له شک پرته چې د دوی ژوند له مرګوني ګواښ سره مخامخوي، همدا راز هغه خوراکي توکي چې بې کیفیته او تاریخ تېره دي له هغو څخه استفاده هم زموږ قدرمنو هېوادوالو ته مصمومیت، ډول ډول ناروغۍ او مختلفې ستونزې را منځته کوي او حتی د هېوادوالو ژوند له مرګوني ګواښ سره مخامخوي.

بناءً په ټوله کې هېوادوال د اسلامي امارت له مسئولو مراجعو څخه په پوره جدیت د دې هیله او غوښتنه لري، چې په لومړي ګام کې د هېواد په بندرونو او سرحدي سیمو کې هېواد ته د هېڅ ډول غیر ستنډرډ او بې کیفیته توکو د داخلېدو اجازه ورنه کړي او ترڅنګ یې په ټوله کې د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د اړوندو مراجعو له لوري باید په پرله پسې ډول درملتونونه، کارخونې او فابریکې، دوکانونه، هټۍ او ... په پوره جدیت کنټرول شي او هر هغه اشخاص او افراد چې د بې کیفیته او تاریخ تېره توکو د پلورلو هڅه کوي، د دوی درملتونونه، فابریکې، دوکانونه، هټۍ ... مهرولاک او یاد کسان دې عدلي او قضایي ارګانونو ته ور وپېژندل شي ترڅو په ټوله کې په هېواد کې د بې کیفیته او تاریخ تیره توکو د شتون مخه ونیول شي او په راتلونکې کې د قدرمنو هېوادوالو روغتیایي مصئونیت هم له هېڅ ډول ګواښ سره مخامخ نه شي.

د یادونې وړ ده، چې هېواد ته د بې کیفیته توکو مخنیوی په حقیقت کې د اسلامي امارت د اړوندو مسئولو ارګانونو له اساسي دندو او مکلفیتونو څخه شمېرل کېږي، نو باید په دې برخه کې استقامتي ارګانونه په پوره جدیت سره خپلې چارې په پوره سپېڅلتیا او ایمانداری پرمخ یوسي، ترڅو په بشپړه توګه هېواد ته د هېڅ ډول غیر ستنډرډ توکو د داخلېدو اجازه ورنه کړل شي. همدا راز هغه اشخاص او افراد چې په ټوله کې غواړي له ګاونډیو ملکونو څخه بې کیفیته توکي په غیر قانوني او قاچاقي ډول هېواد ته وارد کړي د دوی مخه دې هم په پوره جدیت سره ونیسي او عاملین دې د مجازاتو په موخه عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي.



# د بې کیفیته تېلو روغتیایي او اقتصادي زیانونه

نوري



په موټرو او فابریکو کې له بې کیفیته وارداتي تېلو ګټه پورته کول ډېر روغتیایي او اقتصادي زیانونه منځته راوړي. هوا ککړوي او کله، چې هوا تنفس کوو د هوا په ترکیب کې تر یوه بریده سربي مواد د دې لامل کېږي، چې پر تنفسي ناروغۍ اخته شو. افغانستان د نړدې یوې پېړۍ جګړو او نورو ټولنیزو ناخوالو له امله پر دې نه دی توانېدلی، چې په لوړه کچه د هېواد په دننه کې تېل لکه: د خاورو تېل، ډیزل، پټرول او همداسې اوبلن ګاز په لوړه کچه تولید کړي، نو ځکه زموږ د اړتیا وړ نفتي توکي له ګاونډیو هېوادونو واردېږي. د ګاونډیو هېوادونو د تېلو شرکتونه هم کله، چې زموږ هېواد ته تېل صادروي کله ناکله ناخالص وي، چې په دې کار سره موټر چلوونکي او ترانسپورټونو ته ډېر تاوان پېښېږي. څو کاله وړاندې چې له ګاونډیو هېوادونو تېل راوړل کېدل د متخصصو کارپوهانو له خوا دغه بهیر په ډېر دقت څارل کېده.

په دې توګه د بې کیفیته تېلو له راوړلو څخه مخنیوی کېده، خو اوس، چې له ګاونډیو هېوادونو لکه ایران څخه تېل راځي کله ناکله یې کیفیت ډېر ټیټ وي. ډېری هېوادوال د رسنیو له لارې خبرېږي، چې په سرحدي ګمرکونو کې نا خالص تېل د نورم او ستندرد ادارې له خوا لابراتوار او د ککړتیا پر مهال بېرته یاد هېواد ته مستردېږي. دا بهیر د دې حقیقت څرګندوی دی، چې له ګاونډیو هېوادونو سره د تېلو د وارداتو برخه کې ستونزې شتون لري. هېواد ته د غیر ستندرد تېلو په واردولو کې شفایت نه لیدل کېږي.

د دې لپاره، چې له ګاونډیو هېوادونو سره د تېلو په وارداتو کې مثبت بدلون راوستل شي د ناخالصو تیلو له واردولو څخه مخنیوی وکړو، په کار دي، چې د هېواد په پولو کې د نورم او ستندرډ ادارې غښتلې شي، چې د تېلو له واردولو څخه مخنیوی وکړای شو. بله ستونزو داده، چې د دولت له ګمرکونو بهر هم په قاچاقي ډول هېواد ته تېل را وړل کېږي. د دغو غیر ستندرد تېلو له راوړلو څخه هم باید مخنیوی وشي.

سرحدي ګزمې باید غښتلې شي او پرې نږدي، چې قاچاق وړونکي د هېواد بازارونو ته بې کیفیته تیل راوارد کړي. بله ستونزه داده، چې د ګاونډي هېواد شرکتونو او د یو شمېر افغان سوداګرو تر منځ د ډېرې ګټې د تر لاسه کولو په موخه معامله هم کېږي، چې تېل هېواد ته واردوي. په هر حال که دا کار دوام وکړي ولس به تل زیان ګالي. د بېلګې په توګه که موږ د کابل پلازمېنې ته نظر واچوو هوا او د ژوندانه چاپېریال له اندازې وتلی ککړ دی، سربېره پردې د خلکو په منځ کې د تنفسي ناروغیو کچه هم لوړه شوې ده.

کله، چې ککړ تېل یا اوبلن ګاز په موټرو کې اچول کېږي د دود په ترکیب کې سربي مواد هوا ته پورته کېږي. د دې لپاره، چې زموږ د ژوندانه چاپېریال پاک وساتل شي له پاکو او کیفیت لرونکو تېلو څخه چې د نورم او ستندرډ ادارې له خوا تائید شوي وي باید ګټه پورته کړو. اوس نړۍ د پرمختګ خواته روانه ده، الکترونیکي موټر، چې پخوا چا نه پېژندل رواج شوي دي. دغه موټر هم لږ لګښت غواړي او هم د ژوندانه چاپېریال ته تاوان نه پېښوي. که موږ له دغو موټرو ګټه پورته کړو د ژوندانه چاپېریال به مو پاک او ورسره به د هېوادوالو روغتیا هم خوندي شي. اوس د هېواد په شمال کې د اسلامي امارت له خوا د تېلو او اوبلن ګاز د تولید څو فابریکې جوړې شوي دي، خو د تولید سطحه یې دومره لوړه نه ده، چې د هېوادوالو سل سلنه اړتیاوې پوره کړي. په راتلونکې کې د دې هیله مندي شته، چې د تېلو او اوبلن ګاز برخه کې به هم پر ځان بسیا شو. د دغو فابریکو په پراختیا سره به د تېلو او ګازو ستونزې هوارې او ګاونډیو هېوادونو ته به زموږ اړتیا لږې شي.

د دې لپاره، چې له ګاونډیو هېوادونو څخه پاک او کیفیت لرونکي تیل وارد کړو د دولت او خصوصي سکتور ترمنځ د همکارۍ اړتیا ډېره احساسېږي. که چېرې دغه بهیر ته پاملرنه وه نه شي موږ به پر دې ونه توانېږو، چې له ګاونډیو هېوادونو څخه د ناخالصو تېلو واردولو څخه مخنیوی وکړو.

# اسلامي سیاست او رهبریت

مولوي عبدالله طیب - دوهمه برخه

**رهبر او مشر باید ځیرک او نېک مشاورین ولري**

اسلامي رهبران، مشران او امیران باید نېک، تکړه، ځیرک، پوه او هوښیار مشاورین ولري، اسلامي رهبر هغه که امیر وي، هغه که رییس، که وزیر وي او چې په هره رتبه کې وي، مشاورینو ته اړتیا او ضرورت لري، ځکه د یوه پلوه په مشورې باندې ښه ښه نظریات راټولېږي او عملي کېږي او له بل لوري په مشورې کې خیر او برکت شته.

که موږ تاریخ مطالعه کړو دابه راته ثابته شي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به له صحابه کرامو سره د غزاګانو او د نظام په چارو کې مشورې کولې.

الله تعالی جل جلاله په قرآن کریم کې مشوره د صحابه کرامو د نېکو او ښو صفاتو څخه یو صفت ښودلی، الله تعالی په سوره شورى کې فرمايي: ژباړه؛ یعنې د صحابه کرامو امر او کار د دوی په منځ کې مشوره وه، نو معلومه شوه چې صحابه کرامو په خپلو کارونو کې یو له بل سره مشورې کولې او کارونه یې په مشوره سره مخته وړل.

نو زموږ آمرا هم باید د خپلو ځانونو لپاره نېک او ځیرک مشاورین انتخاب کړي، البته په اوسنۍ زمانه کې وخت ته په کتلو سره باید داسې مشاور وټاکل شي چې د نن عصر له حالاتو څخه خبر اوسي او د نن عصر له حالاتو سره بلدتیا ولري او د دې عصر له مسائلو سره کامله اګاهي او بلدتیا ولري.

خو داچې باید یو مشاور کوم صفات ولري او موږ له څنګه کس سره مشاوره وکړو نو د نېک او ځیرک مشارو یو څو صفات درسره شریک کوو:

**لومړی: مشاور باید امانت داره اوسي؛**

باید له داسې کس سره مشوره وشي چې امانت داره وي او د مشورې په ورکولو کې خیانت نه کوي بلکې ښه مشوره ورکوي، د ترمذي په حدیث کې راځي؛ ژباړه: د حضرت ابي هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی، دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: له چا څخه چې طلب د مشورې وشي هغه امین ګڼل شوی، یعنې چې له چا څخه طلب او غوښتنه د مشورې وشي هغه امین ګڼل شوی او باور پرې شوی، نو باید د مشورې لپاره داسې کس انتخاب کړل شي چې هغه امین اوسي او خائن نه اوسي.

**دویم: مشاور باید مؤمن او دېنداره اوسي؛**

باید له داسې کس سره مشوره وشي چې مؤمن او دېنداره وي، ځکه مسلمان او مؤمن سمه مشوره ورکوي او منافق کس بیا د دې پر ځای چې سمه مشوره ورکړي نور هم د کار د خرابوالي او ورانېدو لپاره غلطې او تاواني مشورې ورکوي، چې په نتیجه کې داسې مشوره عملي کېدل ډېر خطرناک او نابد راتلونکی لري.

**درېیم: مشاور باید عاقل او د تجربې خاوند وي؛**

باید مشاور داسې څوک وي چې د عقل خاوند او د تجربې لرونکی وي، ځکه که له داسې کس سره مشوره وشي چې هغه د عقل لخوا څخه پاتې وي یا تجربه ونه لري نو ښکاره خبره ده چې بیا به داسې مشورې ورکوي چې په هغه کې هېڅ کټه نه وي مرتبه یا داسې مشورې ورکوي چې عملي کول یې سخت او ګران کار دی.

**څلورم: د مشاور د علم او مسلک مطابق مشوره ورڅخه وغوښتل شي؛**

باید په هرشي کې د یوه نفر سره مشوره ونه شي، بلکې د هر شي مشوره د داسې کس سره وشي چې هغه کس پدغه موضوع کې پوره معلومات، علم او تجربه ولري، ځکه هر نفر په هر شي کې کافي معلومات نه لري، نو که په یوه موضوع کې له داسې کسانو سره مشورې کېږي چې یا خو د هغوی مسلک نه وي او یا خو هغه په دغه اړه معلومات نه لري، نو له ورایه ښکاري او معلومه خبره ده چې غلطه مشوره ورکوي، نو باید په مشورې کې مسلک ته وکتل شي او مشاور باید په هغه موضوع کې پوره معلومات ولري، د مثال په توګه که د مدرسو اړوند مشوره له داسې چا سره وشي چې هغه په خپل ژوند کې یوه ورځ هم تدریس او مدرسه دارې نه وي کړې نو هغه به په دې موضوع کې ناسمه او نه عملي کېدونکې مشوره ورکوي، یا د یوې بلې موضوع په اړه له داسې کس سره مشوره وشي چې هغه معلومات ونه لري نو سمه مشوره به نه ورکوي، نو باید له داسې کسانو سره په هرې موضوع کې مشوره ونه شي.

پنځم: د سالم، خلاص، روښانه او مثبت فکر خاوند سره مشوره وشي؛

باید له داسې کس سره مشوره وشي چې د سالم فکر خاوند وي، فکر یې روښانه، خلاص او لوی وي، د منفي او تنګ فکره انسان سره مشوره ونه شي. بلکې د داسې کس چې فکر یې د ټولنې او نورو افرادو په اړه سالم او مثبت وي، بلکې له هر لحاظه یې فکر سالم وي، ځکه که د منفي او غیر سالم فکر خاوند سره مشوره وشي، نو هغه به د خپل منفي او تنګ فکر له امله داسې مشوره ورکړي چې نظام او ټولنې ته تاوان وي او د ټولنې او نظام راتلونکی ختموي، بل داچې منفي فکره انسان تل د خپلو شخصي ګټو په خاطر یا د یوه چا سره د تضاد په خاطر د ټوله نظام او ټولنې د تباهۍ مشوره ورکوي، چې په نتیجه کې به یې د نظام په پرمختګ کې لوی خنډ واقع شي.

**شپږم: مشاور کس به خواهشاتو تابع نه وي؛**

له داسې کس سره باید مشوره ونه شي چې هغه تابع د خواهشاتو وي، چې د خپل نفس په خواهشاتو او غوښتنو کې ډوب وي، د دنیا او ښځو خواهشاتو ډوب کړی او غرق کړی وي، نو د داسې کس سره که مشوره وشي نو به د ځان او نورو په تاوان تمامېږي.

**اووم: مشاور به د راز ساتونکی وي؛**

د مشاور یو صفت دادی چې باید مشاور د راز ساتونکی وي، که چېرې له ده سره مشوره کېږي باید هغه راز امانت وساتي او افشاء یې نه کړي، ځکه د راز ساتل ډېر مهم دي، نو باید د داسې مس سره مشوره وشي، چې د راز ساتونکی وي.

**اتم: مشاور به د عصر او زماني د حالاتو سره بلد وي؛**

د مشاور یو بل صفت په دې عصر کې دادی چې باید د دې عصر له حالاتو سره کامله بلدتیا ولري، بالخصوص د نظام لپاره مشوره ورکوونکی کس باید د وخت او زمانې د حالاتو او مسائلو سره بلدتیا ولري، که له داسې کس سره مشوره کېږي چې هغه بغیر د خپل شاوخوا له حالاتو نه بل په هېڅ شي نوي خبر نو مشوره او نظر به یې هم دغومره تنګ وي.

پایله دا چې مشوره ډېره مهم شی دی، د کارونو د ښه پرمختګ لپاره مشورې ته اړتیا شته، نو باید موږ د مشورې په اخیستلو کې ډېر محتاطه و اوسو.

# افغان اعلانات

### اعلان تدارکاتی

{آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین} از تمام دواطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی { پروژه خدمات تخلیه چاه فاضلآب و انتقال زباله های مرکز و بخش های مربوط-وزارت امور شهداء و معلولین بابت سال مالی ۱٤۰٤} تحت نمبر تشخیصیه {MOMDA/1404/NCB/NC-1502} اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوطه را بصورت رایگان در حافظه یا فلش دیسک از آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین ویا وبسایت ریاست تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af/prs/bid-opportunities-notices) بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طورسربسته ازتاریخ نشراعلان الی{روز یکشنبه مورخ ۱۸/جوزا/۱۴۰٤ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر }به شعبه جلسه آفر گشایی آمریت تدارکات، منزل پنجم، تعمیر وزارت امور شهداء و معلولین واقع ایستگاه قلعه خیاط سرک میدان هوائی، ارائه نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر بصورت {بانک گرنتی از یک بانک با اعتبار به مبلغ {۲۰۰۰۰ بیست هزار افغانی} بوده و جلسه آفرگشایی همزمان با تاریخ تسلیمی آفرها بروز (روز یکشنبه مورخ ۱۸/جوزا/۱۴۰٤ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر }در شعبه جلسه آفرگشایی آمریت تدارکات، منزل پنجم، تعمیر وزارت امور شهداء و معلولین واقع ایستگاه قلعه خیاط سرک میدان هوائی، تدویر میگردد.

***

### اعلان تدارکت

{آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین} از تمام دواطلبان واجد شرایط دعوت می¬نماید تا در پروسه داوطلبی { پروژه تهیه و تدارک ۲٦ قلم مواد عذایی مورد ضرورت مرکز حمایوی و ورثه شهداء و معلولین بابت سال مالی ۱٤۰٤} تحت شماره تشخصیه } MOMDA/1404/NCB/G-1503} اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوطه را به¬طور رایگان در حافظه یا فلش دیسک از آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین و یا وبسایت ریاست تدارکات ملی https://tenders.ageops.af/prs/bid-opportunities-notices بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طورسربسته ازتاریخ نشراعلان الی{روز یکشنبه مورخ ۱۸/جوزا/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر }به شعبه جلسه آفر گشایی آمریت تدارکات، منزل پنجم، تعمیر وزارت امور شهداء و معلولین واقع ایستگاه قلعه خیاط سرک میدان هوائی، ارائه نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی¬باشد.

تضمین آفر بصورت {بانک گرنتی از یک بانک با اعتبار به مبلغ ۵۰,۰۰۰ پنجاه هزار افغانی} بوده و جلسه آفرگشایی هم¬زمان با تاریخ تسلیمی آفرها بروز { روز یکشنبه مورخ ۱۸/جوزا/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر } در شعبه جلسه آفرگشایی آمریت تدارکات، منزل پنجم ، تعمیر وزارت امور شهداء و معلولین واقع ایستگاه قلعه خیاط سرک میدان هوایی کابل، تدویر می¬گردد.

***

### اعلان داوطلبی) ٦ ( باب دوکاکین، یکباب موترشوئی ،) دو( باب هنگرواطاق ها واقع جوار سرک عمومی بگرامی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه ٦ با دوکاکین، یکباب موتر شوئی، دوباب هنگر و اطاق ها واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه ۲۲ شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد.

۱- یکباب دوکان نمبر ۱ بمساحت ۱۳٫۱٦مترمربع واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه ۲۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی، مدت(۲)سال

۲- یکباب دوکان نمبر ۲ بمساحت ۱۳٫۳٦ مترمربع واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه ۲۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی، مدت(۲)سال

۳- یکباب دوکان نمبر ۳ بمساحت ۱۲٫۲۲مترمربع واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه ۲۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی، مدت(۲)سال

٤- کباب دوکان نمبر ٤ بمساحت ۱۲٫۲۲مترمربع واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه ۲۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی، مدت(۲)سال

۵- یکباب دوکان نمبر ۵ بمساحت ۱۲٫۲۲ مترمربع واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه ۲۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی، مدت( ۲ )سال

٦- یکباب دوکان نمبر ٦ بمساحت ۲۵٫۲۲ مترمربع واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه ۲۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰) افغانی، مدت(۲)سال.

۷- موترشوئی بمساحت۱٦٤٫٦۸ مترمربع واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه۲۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۵۰۰۰) افغانی،(۲)سال.

۸-دوباب هنگر یکباب تعمیر آهن کانکریتی معه یکباب اطاق و تشناب بمساحت مجموعی ۷۸۵٫۲۲ متر مربع واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه۲۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤۰۰۰۰) افغانی، مدت(۳)سال.

اطاق های منزل دوم بمساحت۹۱٫۳۲ مترمربع واقع جوار سرک عمومی بگرامی مربوط ناحیه۲۲ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲٤۹۳ ) افغانی. کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹٫۲٦۲۷۵ ۳٤٫٤۹۷۷۰ . اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ ۱۴۰۴/۲/۲۸ الی ۱۴۰۴/۳/۱۷ به روز به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند. آدرس:سینما پامیرتعمیر۱٤منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز. شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷) تاریخ مجلس داوطلبی: ۱۴۰۴/۳/۱۸ به ساعت(۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

***

### اعلان داوطلبی

شرکت امارتی نفت وگاز افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید تا در پروسه داوطلبی {پروژه انتقال ٤۵۰۰ الی ۹۰۰۰ تن تیل پطرول از ذخایر بادام باغ/ بینی نیزار ولایت کابل به مرکز و نواحی شهرکابل و ۱٦ ولایت زون مرکزی ، تحت قرارداد چهارچوبی، دارای نمبر تشخیصیه AOGC/NCB/1404/NCS-04(06)} اشتراک نموده و شرطنامه پروژه متذکره را بشکل هارد از آمریت تدارکات، شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان در اوقات رسمی بدست آورند، داوطلبان محترم آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۳ یوم تقویمی در جلسه آفرگشایی به {آمریت تدارکات، تعمیر اداری شرکت امارتی نفت و گاز افغانستان} واقع {ناحیه ۱۷، سرکوتل خیرخانه} ارایه نمایند. آفر های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد و باید یادآور شد که مبلغ /۱۰۰۰- افغانی هنگام توزیع شرطنامه بابت مصارف قرطاسیه از داوطلب اخذ میگردد. ۱۱۹۶

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۲۲۶۹-۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عباس فرزند عبدالرزاق بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۱۶۵

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۴۲۱۹-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالجلیل فرزند میاسرور بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۱۵۸

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم محمد مایل فرزند محمد ظاهر یک عراده موتر پلیت ۸۵۸۷۶-ل کابل نوع مازدا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالرحیم فرزند عبدالطیف بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۱۵۴

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۳۹۷۱۹-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای احمد فیاض فرزند عبدالحمید بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۱۵۲

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۶۴۱۹-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای نجیب الله فرزند محمد شریف بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۱۸۳

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت همراز لمتید یک عراده موتر پلیت ۳۷۲۷۹-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای حبیب الله فرزند بسم الله بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۱۷۶

***

### اعلان داوطلبی

وزارت مخابرات و تکنالوژي معلوماتي از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه و تدارک پرزه جات ضرورت وسایط وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی اشتراک نموده وآفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات ترتیب و طوری سربسته الی ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر مورخ ۱٤۰٤/۳/۲۱ به دفتر ریاست تدارکات طبقه ۱٤ تعمیر ۱۸ منزله وزارت مخابرات ، محمد جان خان وات ناحیه دوم شهر کابل ارائه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و از طریق ایمیل قابل پذیرش نمیباشد. داوطلبان می تواند شرطنامه را از ویب سایت وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی (WWW.MCIT.GOV.AF) ویا ازآدرس الکترونیکی ریاست تدارکات ملی https://tenders.ageops.af دریافت نمایند. درصورت عدم دانلود شرطنامه از سایت های متذکره، داوطلبان میتواند سافت شرطنامه راذریعه فلش از آمریت تدارکات طبقه ۱٤ تعمیر ۱۸ منزله وزارت مخابرات واقع پل باغ عمومی کابل اخذ نمایند. داوطلبان تضمین آفر را به شکل تضمین بانکی به مبلغ چهل هزار افغانی (٤۰,۰۰۰) افغانی مطابق مندرج شرطنامه درجلسه آفرگشایی ارایه‌نمایند.

جلسه آفر گشایی به ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر مورخ ۱٤۰٤/۳/ ۲۱ در دفتر ریاست تدارکات طبقه ۱٤ تعمیر ۱۸ منزله تدویر میگردد.

# تقدیر از تیم‌های برتر فوتبال زون غرب در هرات

طی محفلی از تیم فوتبال شمس‌کولا ـ قهرمان رقابت‌های زون غرب کشور ـ و تیم اتحاد نیمروز ـ نایب‌قهرمان این دوره قدردانی به عمل آمد.

حاجی سعید صدیقی معاون اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات می گوید که حمایت و قدردانی از ورزشکاران و فوتبالیست‌ها انگیزه‌ای بیشتر برای رشد آنان ایجاد می‌کند. وی می گوید که اتاق تجارت تلاش دارد با جلب همکاری تاجران، زمینه بهتری برای توسعه ورزش حرفه‌ای در ولایت هرات و سراسر کشور فراهم سازد.

برخی از بازیکنان دو تیم نیز تأکید دارند که با پشتوانه اداره‌های ورزشی و بخش خصوصی، می‌توانند در میادین بین‌المللی بدرخشند و پرچم کشور را به اهتزاز درآورند.

گفتنی است که رقابت‌های فوتبال زون غرب کشور چندی پیش به میزبانی هرات و با حضور پنج تیم از ولایت‌های هرات، فراه، بادغیس و نیمروز برگزار شد.

در نتیجه این بازی ها تیم شمس‌کولا با ٤ برد پیاپی و بدون شکست، مقام قهرمانی را از آنِ خود کرد

تیم اتحاد نیمروز با ۳ پیروزی و یک شکست، عنوان نایب‌قهرمانی را به دست آورد که این دو تیم به لیگ قهرمانان افغانستان راه یافتند .

قابل یاد آوری است که در مسابقات قهرمانی لیگ برتر کشور سال گذشته تیم ابومسلم از ولایت فراه به نمایندگی از زون غرب قهرمان لیگ برتر افغانستان شد.

## به ارائه خدمات صحی در بامیان ...

والی بامیان، در سخنانش از فعالیت‌های مفید و خدمات صحی سازمان داکتران بدون سرحد در مرکز و ولسوالی‌های بامیان قدردانی کرد و خواستار توجه بیشتر این سازمان به فعالیت‌های صحی در مناطق محروم و صعب العبور این ولایت شد. همچنان وی خواهان ساخت ۱۲ تعمیر مراکز صحی و شفاخانه، تکمیل تعمیر نیمه کاره شفاخانه ۳۰ بستر ولسوالی ورس، فعال سازی شفاخانه انتانی مرکز بامیان و تجهیز شفاخانه ولایتی در بخش صحت روانی، شد. مسئول بخش عملیاتی سازمان داکتران بدون سرحد، اطمینان داد که خواست‌های مطرح شده را با مسئولان نهادهای خیریه و تمویل کننده درمیان خواهد گذاشت تا به آن رسیدگی شود.

## د افغانستان او پاکستان ...

توپير ښيي. د راپور له مخې، د روان کال په اپرېل میاشت کې افغانستان ته د پاکستان صادرات د مارچ میاشتې په نسبت ۲۱ سلنه ډېروالی ښيي او له ۷۲ میلیون ډالرو ۸۷ میلیون ډالرو ته رسېدلي دي. راپور کې راغلي، له افغانستانه واردات هم ۲۸ سلنه ډېر شوي او په مارچ میاشت کې له ۲۵ میلیون ډالرو څخه ۳۲ میلیون ډالرو ته رسېدلي دي.

د راپور له مخې، د صادراتو او وارداتو یاد ډېروالی د دې لامل شوی،چې په اپرېل میاشت کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ ټوله سوداګري ۱۱۹ میلیون ډالرو ته ورسېږي،چې په مارچ کې د ۹۷ میلیون ډالرو په نسبت شاوخوا ۲۳ سلنه ډېروالی ښيي.

## اضرار مواد نفتی بی‌کیفیت ...

وعرضه مواد نفتی در افغانستان را دشوار ساخته است که این معضل باعث شده تا مواد نفتی بی کیفیت وارد بازار های کشور گردد که اکثراً آتش سوزی ها ، آلودگی هوا ، محیط زیست و صد ها معضل دیگر از مواد بی کیفیت منشأ می گیرد.

هرچند اداره ملی استندرد پیرامون جلوگیری از مواد بی‌کیفیت تلاش های مضاعفی را به خرج داده ، بنادر و مواد وارداتی را زیر نظر دارد ، اما با آن هم تورید واستفاده مواد بی کیفیت خسارات جانی، مالی ومحیطی را به بار آورده که باید راه های بیرونرفت آن در نظر گرفته شود.

روی این اساس امارت اسلامی پیرامون جلوگیری از تورید تیل بی‌کیفیت در کشور ، تصامیمی جدی را اتخاذ کرده که باید این تصامیم عملی وبه منصه اجرا قرارگیرد، زیرا زیان های ناشی از مواد نفتی بی‌کیفیت، خطرات واضرار آن، امروز سبب خسارات جانی ومالی فراوانی شده است که باید به رفع این معضل اقداماتی همه جانبه صورت گیرد.

گفتنی است ، افغانستان دارای معادن طبیعی ، ظرفیت مدیریتی و نیروی وافر فزیکی است که اگراز این منابع و معادن به ویژه چاه های نفتی، به شکل معیاری استفاده و مواد استخراج شده با معیارهای بین المللی، پروسس و پالایش شود، نه تنها که از وابستگی به مواد نفتی وگاز کشور های بیرونی رهایی خواهیم یافت، بلکه در میان مدت، شاهد یک افغانستان مترقی ، خود کفا ودر عین حال صادر کننده مواد نفتی به دیگر کشور ها نیز خواهیم بود.

## لغمان کې د کمپیوټري یخن ...

برخو کې آسانتیاوې برابروو.»

ورته مهال د اقتصادي چارو شنونکی واصف الله عثماني دغه شان کارخونې د سیمه ییز اقتصاد لپاره مهمې بولي او وايي:« کله چې کورني تولید ته زمینه برابره شي بهرني واردات راکمېږي او د پیسو بهیر په داخل کې پاتې او سیمه ییز بازارونه پیاوړي کېږي او یو شمېر ځوانانو ته د کارزمینه هم برابرېږي».

د یادونې وړده، چې اوس په دغه ولایت کې د یخن ګنډلو ترڅنګ د بطریو، پلاسکو لوښو او یو شمېر نورې تولیدي کارخونې فعالیت کوي، چې په کې سلګونو تنو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

## د میدان وردګو له پراختیایي پروژو ...

د اوبو او انرژۍ وزارت وايي، چې د ملکرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې د نوموړې پروژې د چارو څخه د لیدنې پر مهال ژمنه کړې، چې په راتلونکي کې به د میدان وردګو ولایت د اوبو او انرژۍ ریاست تر څارنې لاندې د څو نورو پروژو پلي‌کول هم منظور کړي.

د یادونې وړ ده، چې د یادې پروژې چارې د ۱۱۴ زره ډالرو په لګښت روانې دي او تر دې مهاله یې چارې ۸۸ سلنه پرمخ تللې دي.

## تېرکال ۲۰ زره کډوالو ...

شاوخوا ۸۵ زره بېرته راستنېدونکي هېوادوال یې د کاري فرصتونو برابرولو په موخه ثبت او راجستر کړي دي. اقتصاد وزارت وايي؛ د بېرته راستنېدونکو ستونزو ته د مرستو جلب او جذب کمېټه هڅه کوي، چې د ملي او نړیوالو همکارو بنسټونو په هڅونې له بېرته راستنېدونکو سره د مرستو بهیر کړندی کړي.

## د کوډو او جادو د مخنیوي ...

د هلک یا نجلۍ د کوژدې د راضي کولو لپاره هم ځینو خلکو ته ورځي. همدرد له حکومته غوښتي، چې ولس ته باید دا پوهاوی ورکړي، چې څوک، کله او د څه لپاره د ملا یا عالم دروازې ته ورشي، تر څو له دیني انحرافاتو نه ځان وساتي.

د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت ویاند سیف الاسلام خیبر هم تائیدوي،چې لا هم ځینې کسان د کوډو او جادو په بدل کې له خلکو پیسې اخلي. نوموړي امارتي ورځپاڼو ته ویلي: «د وزارت محتسبین د هغو کسانو پر وړاندې چې کوډې، جادو او سحر کوي، قانوني کړنې ترسره کوي، دا کسان تعقیبېږي، نیول کېږي او ولس له محتسبینو سره همکاري کوي.»

د ښاغلي خیبر پر وینا، کوډې، جادو او سحر په اسلام کې مطلقاً حرام دي او اسلامي امارت ژمن دی،چې هېچاته به اجازه ورنه کړي چې د دین له نومه، د خلکو له ساده‌ګۍ او ناپوهۍ ناوړه ګټه پورته کړي.

نوموړي زیاتوي،چې تعویذ که له قرآني آیتونو، مشروع دعاوو او د صحت یا روا اړتیاوو لپاره وي، شرعاً روا دی، خو هغه تعویذونه یا عملونه چې د غیرمشروع موخو لپاره وي، هغه شرعاً اسلام کې جواز نه لري.

**تاج محمد بهار**

## پکتیا کې د ۶ کیلو متره ...

یاد سړک د چارو له بشپړېدو خوښي ښودلې او زیاته کړې یې ده، چې له دې سره به د ترانسپورټ په برخه کې د دوی ستونزې حل شي.

د ویلو ده، چې د ټولګټو ریاست په مرکز سربېره ګڼو ولسوالیو کې خراب سړکونه د مسلکي غړو او خپلې ماشینرۍ په وسیله رغولي دي.

Shariat
Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : Farooq Ghaljai
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: فاروق غلجی
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Sunday 18 May 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 758

# د کوډو او جادو د مخنیوي لپاره جدي اقدامات پیل شوي



**شریعت:** په افغانستان کې د کوډو، جادو او تعویذ مسئله د خلکو تر منځ پخوانی دود دی، چې ډېر خلک یې د شخصي ستونزو د حل لپاره کاروي، خو اوس د اسلامي امارت له لوري د کوډو او جادو د منع کولو لپاره جدي اقدامات پیل شوي او ولس ته د تعویذ او سحر ترمنځ د توپیر وضاحت اړین بلل شوی.

حمیدالله همدرد له امارتي ورځپاڼو سره په خبرو کې ویلي، چې د پخوا په پرتله اوس خلک د دیني عالمانو او ملایانو سره په دې برخو کې کمه مراجعه کوي، خو بیا هم د تعویذ، کوډو او جادو موارد په ټولنه کې شته. نوموړی وایي چې ځینې خلک د اولاد نه لرلو، ځینې د نارینه اولاد غوښتلو او حتی ... ۳مخ

## تېرکال ۲۰ زره کډوالو ته د زده کړو زمینه برابره شوې

پوهنې وزارت وایي، د زده کړو او ښې روزنې په موخه یې تېر کال څه باندې ۲۰ زره بېرته راستنېدونکو افغان کډوالو ته د زده کړو زمینه برابره کړې ده. د کار او ټولنیزو چارو وزارت بیا ډاډ ورکوي، چې ... ۳مخ




## سازمان داکتران بدون سرحد:
## به ارائه خدمات صحی در بامیان ادامه می‌دهد



مولوی عبدالله سرحدی والی بامیان، در نشست با مسئول عملیاتی سازمان داکتران بدون سرحد برای افغانستان، در رابطه به فعالیت‌های صحی و عرضه خدمات بهداشتی به باشندگان بامیان صحبت کرد.

به گزارش خبرنگار آژانس باختر؛ در این نشست، سارا شتو مسئول عملیاتی سازمان داکتران بدون سرحد برای افغانستان، از ادامه فعالیت‌های صحی رایگان این سازمان در بامیان اطمینان داد و گفت که این سازمان تلاش می کند که تمام فعالیت‌های صحی را در هماهنگی با مقام ولایت بامیان انجام دهد. ص۳

## لوګر کې یوه ښوونځي ته ودانۍ جوړه شوه



د لوګر ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي چې د دغه ولایت مرکز پل علم اړوند کډوالو او راستنېدونکو ښارګوټي کې د صلاح الدین ایوبي ښوونځي لپاره ودانۍ جوړه او ګټې اخیستو ته وسپارل شوه.

د یاد ولایت د پوهنې ریاست مطبوعاتي مسئول شاه پور عرب باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې دغه ودانۍ د یوې مرستندویه موسسې په مالي ملاتړ د ۳۰۰ زره ډالرو په لګښت په دوو پوړونو کې په اساسي ډول جوړه او ګټې اخیستو ته سپارل شوې ده.

د نوموړي په وینا، دغه ودانۍ ۱۶ تدریسي او ۵ اداري خونې لري چې د اوبو منظم سیستم، لمریزه برېښنا او نور اړین ملحقات لري.

د یادونې وړ ده، چې د دغه ښوونځي په جوړېدو سره به د سیمې زده کوونکو لپاره د زده کړو مناسب چاپېریال برابر شوی دی.

## پکتیا کې د ۶ کیلومتره سړک د جغل اچونې چارې بشپړې شوې




د پکتیا ولایت د رسنیو دفتر په جان‌خېلو ولسوالۍ کې د شپږ کیلو متره سړک د جغل اچونې چارو له بشپړېدو خبر ورکړی دی.

د یاد ولایت د ټولګټو ریاست رییس مولوي محمد اکبر عادل وایي، چې د دغه سړک چارې د مسلکي غړو، ماشینري او د لواء د ماشینري په همکارۍ د ۲۷ کاري ورځو په موده کې بشپړې او ګټې اخېستو ته سپارلې دي.


د دې سیمې اوسېدونکو د ... ۳مخ

## پنجشېر کې له روغتیایي مرکزونو سره مرستې شوې



د پنجشېر د عامې روغتیا ریاست وايي، چې په دغه ولایت کې د «مووف» موسسې په مالي ملاتړ له ۳۱ روغتیایي مرکزونو سره د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د طبي او غیر طبي وسایلو مرسته شوې ده. د عامې روغتیا رییس ډاکټر حجت‌الله محمدي وایي، له دغو مرکزونو سره فشار سنج، ترمومتر، جراحي سېټونه، اکسیجن ماسکونه، کمپیوټرونه، چپرکټونه، مېزونه او نور اړین وسایل وېشل شوي دي. نوموړي زیاته کړه، چې دا مرسته به د خدماتو کیفیت لوړ او ناروغانو ته اسانتیاوې رامنځته کړي.

## ترافیکي پېښې د یوه ماشوم په ګډون د دوو مېرمنو ژوند اخیستی



د لوګر او پکتیا پر لویه لار د تېرې کوتل اړوند سیمه کې د ترافیکي پېښې له امله د یوه ماشوم په ګډون دوو مېرمنو خپل ژوند له لاسه ورکړی او ۸ نور ټپیان شوي دي.

دغه راز تېره ورځ په محمد اغې ولسوالۍ کې هم د یوې ترافیکي پېښې له امله څلور تنه ټپیان شوي دي.

د یادې ترافیکي پېښې لامل نه دی په ډاګه شوی؛ خو له دې وړاندې د ورته پېښو لاملونه د ترافیکي اصولو نه مراعتول او د موټر چلونکو بې‌پامي ښودل شوې ده.




# نړۍ خار

## صهیونېست رژیم د یمن دوه بندرونه په نښه کړي

د صهیونېست رژیم پوځ د یمن حدیده او الصلیف بندرونه تر برید لاندې راوستي دي. د یاد رژیم لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو له برید وروسته حوثي ځواکونو ته بیا ګواښ کړی، چې د نورو بریدونو انتظار دې هم ولري.
صهیونېست رژیم دا برید دوه ورځې وروسته تر هغه کړی، چې پوځ یې د یادو بندرونو اوسېدونکو ته څو ځلې خبرداری ورکړی و.
په دغو بندرونو برید د یمن د بشري وضعیت د لا خرابېدو وېره راولاړه کړې، ځکه چې د ملګرو ملتونو پر وینا، حدیده د یمن خلکو ته د ژوندي پاتې کېدو حیاتي لاره ده.



## امریکا کې ۱۰ بندیان تښتېدلي

د امریکا د نیو اولینز له عدلي زندان څخه د قتل په تور نیول شوي لس تنه بندیان په تېښته بریالي شوي دي. د «اېن بي سي نیوز» د راپور له مخې، یادو کسانو د زندان د حمام له لارې یو سوری جوړ کړی او له هغه ځایه بهر ته وتلي دي. د زندان مسئولینو د یوې خبري غونډې پر مهال دا تېښته له بهرنۍ همکارۍ پرته غیر ممکنه بللې او ویلي یې دي، چې په دې اړه پلټنې پیل شوې دي. د یاد زندان چارواکو ځینې شواهد وړاندې کړي، چې ښیي یادو بندیانو سره په زندان کې د ننه مرسته شوې او ښایي د همدې مرستې له امله یې تېښتې ته زمینه برابره شوې وي.

## نړۍ کې ۲۹۵ میلیونه انسانان له لوږې سره مخ دي

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش وایي، چې تېر ۲۰۲۴ کال په ټوله نړۍ کې ۲۹۵ میلیونه خلک له لوږې سره مخ شوي دي. نوموړي په خپله اېکس پاڼه ټینګار کړی، چې د خوړو د بحران په تړاو د نړیوال راپور خبرداریو ته پام وکړي. د ملګرو ملتونو سرمنشي زیاته کړې: «اوس د عمل وخت دی او راځئ چې په ګډه لوږه ختمه کړو.»
دا په داسې مهال ده، چې لوږه او د خوړو نشتوالی له کلونو راهیسې خوا د نړۍ یوه ستره بشري ستونزه پاتې شوې؛ خو د ۲۰۲۴م کال راپورونه ښیي، چې دا بحران نور هم ژور شوی دی.

## کیيف او مسکو د بندیانو تبادلې او اوربند ته نږدې شوي

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، روسیې اعلان کړی، چې له اوکراین سره د جنګي بندیانو د تبادلې او احتمالي اوربند پر سر د خبرو اترو د بیا پیل لپاره موافقې ته رسېدلي دي. یاد اژانس زیاته کړې، دا له درېو کلونو وروسته د دواړو هېوادونو ترمنځ لومړۍ مستقیمې خبرې دي. د روسیې د پلاوي مشر ولادیمیر میډینسکي د استانبول د خبرو اترو تر پای وروسته د روسیې دولتي ټلویزیون ته ویلي، چې دواړه لوري د ۱۰۰۰ - ۱۰۰۰ بندیانو د تبادلې او د راتلونکو خبرو د چوکاټ پر سر هوکړې ته رسېدلي دي. ولادیمیر میډینسکي ویلي: "په عمومي توګه، موږ له پایلو راضي یو او چمتو یو، چې خبرو ته دوام ورکړو او په راتلونکو ورځو کې به د زرګونو بندیانو تبادله وشي."
نوموړي زیاته کړې، چې اوکرايني لوري د دواړو هېوادونو د مشرانو ترمنځ د مستقیمو خبرو غوښتنه کړې او روسیې دا غوښتنه جدي نیولې ده. د راپورونو له مخې، دا به له ۲۰۲۲ م کال راهیسې، چې روسیې اوکراین ته د لسګونو زرو سرتېرو د لېږلو عملیات پیل کړي وو، د جنګي بندیانو له ټولو ستره تبادله وي.